د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه

# او

# اسلامي ښوونه او روزنه

## لومړی ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۶۰ هـ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـــ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

**لیکوالان:** سر مؤلف الحاج مولوي بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

الحاج مولوي عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیټه:**

۱ـ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.
۲ـ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی
۳ـ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
۴ـ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .
۵ـ مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
۶ـ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
۷ـ استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
۸ـ مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د یپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د څېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱ـ پوهاند عبد السلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.
۲ـ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.
۳ـ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرګې د تقنین کمیسیون مرستیال.
۴ـ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرګې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .
۵ـ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.
۶ـ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .
۷ـ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټه:**

۱– دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت لوی سلا کار.
۲– ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.

## د څارنې کمیټه

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**کمپوز او ډیزاین:** حمیدالله غفاري او رقیب الله ابراهیمي

**د مطالبو فهرست**


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قرآن کریم د زده کړې مضمون | ۱________۳۴ |
| ۲ | عقیده:د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون:لومړی فصل | ۳۵________۴۰ |
| ۳ | دویم فصل: فقه | ۴۱________۴۴ |
| ۴ | دریم فصل: اخلاق | ۴۵________۵۲ |

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليت په ريښتوني توگه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تأليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو مؤسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

ketabton.com - The Digital Library

# د قرآن کریم د زده کړې مضمون

## لومړی فصل

### لومړی لوست

## الفبا توري

**هدف:**

د لاندنیو اوو(۷) تورو د آواز او بڼې پیژندنه.

د الفبا توري څوک پیژني؟

هغه توري ښودلئ شئ چې شکلونه یې سره ورته دي؟

ا ب ت ث

ج ح خ

**ښوونه:**

۱- محترم ښوونکی دې یو توری په څرګند ډول پر تخته ولیکي او ودې لولي، وروسته دې زده کوونکي ورسره ملګرتیا وکړي او د تورو لیکنه چې له کوم ځای څخه پیل او پای ته رسیږي.زده کوونکو ته وروښیي.

۲- ټکي لرونکي اوبې ټکیو توري دې پوره تشخیص کړي او د (ت، ث، ج ، خ) توري دې تمرین کړي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکي د ب، ث، ج، خ د تورو شکل، تلفظ او د ټکي ځای پیژندلی او ویلای شي؟

ketabton.com - The Digital Library

## دویم لوست

# د الفبا توري

**هدف:**

د لاندنيو شپږو (٦) تورو له تلفظ، آواز او شکل سره آشنايي.

خوک کولی شي دا توري ولولي؟

کوم توري سره ورته شکل لري؟

د ذ ر

ز س ش

**هڅونه:**

يوله بل سره ورته توري په خپلو کتابچو کې وليکئ او سره يې ونښلوئ.

ذ س

ش د

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي توري بيل بيل لوستلی او د ث، س آوازونه تشخيصولی شي؟

محترم ښوونکی دې ددې لوست او تير شوي لوســت متن تر هغه وخته تمرين کړي ترڅو ډاډمن شي چې زده کوونکو تر دې پراو پورې د تورو آواز، شکل او د سم تلفظ مهارت پيدا کړی، بيا وروســته دې په نوي لوست پيل وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

<u>درېيم لوست</u>

## د الفبا توري

**هدف:**

د لاندې څلورو (۴) تورو شکل او آواز پېژندنه.

# ض ص

# ظ ط

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د پورتنيو څلورو تورو آواز تشخيص کړي او په ګوتو سره دې په هـــوا کې د هغو شکل پنځه پنځه واره وليکي.

**ارزونه:** آيا زده کوونکو د(ط، ظ، ص، ض) سم تلفظ اوشکلونه پيژندلي دي؟

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې د (س او ص) توري لس لس ځله په کـــور کې وليکي او بيا يې و ګوري او اصلاح يې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

خلورم لوست

# د الفبا توري

**هدف:**

د لاندې شپږو (٦) تورود شکل او تلفظ له مهارت سره آشنايي.

لاندې توري څوک لوستلای شي؟

ف غ ع

ل ک ق

**ښوونه:**

محترم ښوونکی دې لوست پر تخته وليکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې ويې لولي.

**ارزونه:** آيا زده کوونکي په بشپړه توګه د ع، ف، غ، ق، ک، اول سم آواز او شکل تشخيص کولی او بيا يې سم تلفظ کولی شي؟

---

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې دخپلو کورنيو په مرسته دا تــوري پــه خپلــو کتابچو کې ١٠-١٠واره وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

# د الفبا توري

**هدف:**
دلاندې تورو د تلفظ اوشکل پېژندنه.

ښوونکی کولای شي دا توري د ټولګي پر تخته ولیکي؟

م ن

و هـ

ء ی

**هڅونه:**

زده کوونکي دې داتوري بیل بیل سم تلفظ کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکو ددې تورو سم تلفظ او شکلونه پیژندلي دي او سم یې لوستلی شي؟

---

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې ځینې توري نور شکلونه هم لري. لکه:

د – ذ - ت – ک– ی – هـ

د – ذ – ة - ك - ی – ه

ketabton.com - The Digital Library

شپږم لوست

# ټکي لرونکي توري

**هدف:**

د پنځلسو (۱۵) ټکو لرونکو تورو پیژندنه.

ب ت ث ج خ

ذ ز ش ض ظ

غ ف ق ن یــــ

**هڅونه:**

محترم ښوونکی دې ټکي لرونکي توري پر تخته ولیکي او په لوړ غږ سره دې ولولي چې زده کوونکي یـــې واوریدلی شي.او همدارنګه دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې په یوائې توګه د ټکو ځایونه ور وښیي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکو دټکو ځایونه پوره پیژندلي دي؟

---

محترم ښوونکی دې دا توري یوځل په افقي بیا په عمودي توګه پر زده کوونکو ولولي.

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

# بې ټکو توري

**هدف:**

د څوارلسو (۱۴) بې ټکو تورو پېژندنه.

آيا بې ټکو توري پېژنئ؟

ا ح د ر س

ص ط ک ل م

و هـ ء ی

**ښوونه:**

محترم ښوونکی دې بې ټکي توري پر تخته وليکي او په لوړ آواز سره دې ولولي بيا دې زده کوونکي تکرار کړي.

---

محترم ښوونکی دې د لوست په پای کې هغه توري چې يو ټکی، دوه ټکي، او درې ټکي لري سره بيل کړي او زده کوونکي دې ورباندې پوه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## تمرين

په مرتبه توګه د الفبا دتورو پيژندنه.

څوک دهجا توري ويلی او ليکلی شي؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ج | ث | ت | ب | ا |
| ر | ذ | د | خ | ح |
| ض | ص | ش | س | ز |
| ف | غ | ع | ظ | ط |
| ن | م | ل | ک | ق |
| | ی | ء | ه | و |

**هڅونه:**

زده کوونکي دې دا جدول لومړی له پورتنۍ خوا څخه لاندې خوا ته او بيا له لاندې خوا څخه پورتنۍ خوا ته ولولي او محترم استاد دې د هغوی تېروتنې ارزيابي او اصلاح کړي.

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته له ارزونې وروسته کورنۍ دنده ورکړي چې د کومو تورو په ويلو او ليکلو کې ستونزې لري ۱۰–۱۰ وارې په خپلو کتابچو کې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اتم لوست

## پيوندي توري

**هدف:** د پيوندي يا ترکيبي تورو د شکل پيژندنه او د ليکنې مهارت.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ا | بـ | تـ | ثـ | جـ |
| حـ | خـ | ـد | ـذ | ـر |
| ـز | سـ | شـ | صـ | ضـ |
| طـ | ظـ | ـع | ـغ | فـ |
| قـ | کـ | لـ | مـ | نـ |
| ـو | هـ | ئـ | يـ | |

**هڅونه:**

زده کوونکي په دې بايد پوه شي چې (ا، ب) اوتول توري له نورو تورو سره د يوځاى کيـــدلو په وخت کې له هغوى سره يو ځاى لوستل او ليکل کيږي لکه ( لا- ما- تا- يا) بيـــا دې زده کوونکي هر توری په هوا کې په خپلو ګوتو سره تمثيل او تمرين کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# دویم فصل

حرکتونه ( ـَـ ـِـ ـُـ ) او له هغو سره د تورو تلفظ
او هم د سکون(ـــْـ ) پیژندنه

## نهم لوست
د زورحرکت ( ـــَــ)

**هدف:**

د زور د حرکت پیژند نه او پر پنځلسو تورو باندې یې سم تلفظ .

آیا دزور سره مو توري تلفظ کړي دي؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَ | بَ | تَ | ثَ | جَ |
| حَ | خَ | دَ | ذَ | رَ |
| زَ | سَ | شَ | صَ | ضَ |

**هڅونه:**

محترم ښوونکی دې د لوست توري له زور سره پر تخته ولیکي او په لوړ غږ سره دې ولولي او بیا دې زده کوونکي ورسره تکرار کړي.

محترم ښوونکی دې دهر توري سم تلفظ او آواز پر زده کوونکو باندې تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## لسم لوست

# دزورحرکت ( ــــــَــ)

**هدف:**

د زور ـَــ پیژندنه او پر (۱۴) تورو باندې یې تلفظ .

آیا دا لاندې توري له زور سره تلفظ کولای شئ ؟

ایا د زور ځای پیژنئ ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| طَ | ظَ | عَ | غَ | فَ |
| قَ | کَ | لَ | مَ | نَ |
| وَ | هَ | ءَ | یَ | |

**هڅونه:**

زده کوونکي دې پورتني توري له زور سره سم تلفظ کړي او محترم ښوونکی دې د هغوی تېروتنې په مینې سره اصلاح کړي.

---

محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي چې د الفباء قاعدې له حرکتونو سره په کور کې د مور او پلار په مرسته په خپلو کتابچو کې ولیکي؟

ketabton.com - The Digital Library

## يوولسم لوست

# د زير حرکت ( ـــِـــ )

**هدف:**

د زير حرکت ـــِـــ سم تلفظ او پر پنځلسو تورو باندې يې دسم ادا کولو مهارت.

آيا دا لاندې توري له زيرـــِـــ سره ويلای شئ ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جِ | ثِ | تِ | بِ | اِ |
| رِ | ذِ | دِ | خِ | حِ |
| ضِ | صِ | شِ | سِ | زِ |

**هڅونه:**

زده کوونکي دې پورتني توري په ډله ييز ډول تکرار کړي.

محترم ښوونکی دې د تورو د زير حرکت سم تلفظ په لوړ آواز په خپلو زده کوونکو باندی مشق اوتکرار کړی.

ketabton.com - The Digital Library

## دولسم لوست

# د زير حرکت ( ـــِـ )

**هدف:**

د زير حرکت ـــِـ سم تلفظ او پر پنځلسو تورو باندې يې د سم ادا کولو مهارت.

آيا دا لاندې توري له زير ـــِـ سره ويلای شئ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| طِ | ظِ | عِ | غِ | فِ |
| قِ | کِ | لِ | مِ | نِ |
| وِ | هِـ | ءِ | یِ | |

**لارښوونه:**

محترم ښوونکی دې پر تختې د زير نښه زده کوونکو ته وښيي او هم دې زده کوونکو ته د زور او زير تلفظ واضح کړي لکه: اَ - اِ

---

محترم ښوونکی دې له زير سره د پورتنيو تورو تلفظ ته پاملرنه وکړي او پر زده کوونکو باندې دې مشق او تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

دیارلسم لوست

## د پېښ (ــُـ) تمرین په مرتبو تورو کې

**هدف:**

د پېښ له حرکت ــُـ سره د ۱۵ تورو تلفظ، شکل او مهارت پېژندنه.

ځوک کولای شي لاندې تورې له پېښ ــُـ سره تلفظ کړي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جُ | ثُ | تُ | بُ | اُ |
| رُ | ذُ | دُ | خُ | حُ |
| ضُ | صُ | شُ | سُ | زُ |

**ښوونه:**

محترم ښوونکی دې هر توری په ځانګړې توګه د پېښ له علامې سره پر تخته ولیکي، ولولي او زده کوونکي دې ور سره ملګرتیا وکړي.

---

محترم ښوونکی دې د پېښ لرونکو تورو په سم تلفظ کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

خوارلسم لوست

## د پيښ ( ـــُــ ) تمرين په مرتبو تورو کې

**هدف:**

د پيښ له حرکت ـــُــ سره د تورو د تلفظ او آواز د مهارت پيژندنه .

ځوک کولی شي په لاندې تورو باندې د پيښ نښه ـــُــ کيږدي؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فُ | غُ | عُ | ظُ | طُ |
| نُ | مُ | لُ | کُ | قُ |
| | یُ | ءُ | هُ | وُ |

**هڅونه:**

محترم ښوونکی دې د پيښ نښهـــُــ چې د واو په څير ليکل کيږي د ټولګي پر تخته وليکي او زده کوونکي دې لوست په افقي او عمودي ډول په لوړ آواز سره ووايي.

---

ښا غلی ښوونکی دې د پيښ لرونکو تورو په سم تلفظ کې له زده کوونکو سره مرسته وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

# تمرين (۱)

د زده کوونکو دقيق لوستل، اوريدل او د ليدلو د مهارتونو وده او پياوړتيا.

په تورو کې د حرکتونو ـَ ـِ ـُ پيژندنه

په تورو کې زور، زير او پيښ څوک ښودلی شي؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَاِاُ | بَبِبُ | تَتِتُ | ثَثِثُ | جَجِجُ |
| حَحِحُ | خَخِخُ | دَدِدُ | ذَذِذُ | رَرِرُ |
| زَزِزُ | سَسِسُ | شَشِشُ | صَصِصُ | ضَضِضُ |
| طَطِطُ | ظَظِظُ | عَعِعُ | غَغِغُ | فَفِفُ |
| قَقِقُ | کَکِکُ | لَلِلُ | مَمِمُ | نَنِنُ |
| وَوِوُ | هَهِهُ | ءَءِءُ | یَیِیُ | |

**هڅونه:**

په چوپتيا سره مطالعه کول او د تورو او حرکتونو پيژندل.

د هر توري سم تلفظ ته پاملرنه.

---

محترم ښوونکی دې له زده کوونکو سره د (ث، س، ص) په سم تلفظ کې مرسته وکړي

ketabton.com - The Digital Library

# تمرین (۲)

په نیمه (ترکیبي) تورو کې د حرکتونو ـَـ، ـِـ او ـُـ پیژندنه.

په نیمه (ترکیبي) تورو کې د حرکتونو زور، زیر، پیښ د پیژندني تمرین

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَاِاُ | بَـبِـبُـ | تَـتِـتُـ | ثَـثِـثُـ | جَـجِـجُـ |
| حَـحِـ حُـ | خَـخِـ خُـ | ـدَـدِـدُ | ـذَـذِـذُ | ـرَـرِـرُ |
| ـزَـزِـزُ | سَـسِـسُـ | شَـشِـشُـ | صَـصِـصُـ | ضَـضِـضُـ |
| طَـطِـ طُـ | ظَـظِـ ظُـ | عَـعِـعُـ | غَـغِـغُـ | فَـفِـفُـ |
| قَـقِـقُـ | کَـکِـکُـ | لَـلِـلُـ | مَـمِـمُـ | نَـنِـنُـ |
| ـوَـوِـوُ | هَـهِـهُـ | ءَءِءُ | یَـیِـیُـ | |

محترم استاد دې په نیمه (ترکیبي) تورو کې دحرکتونو (زور، زیر، پیښ) د تیر لوست په خیر تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## پنځلسم لوست

# په دوه توريزو کې سکون

**هدف:**

د سکون پيژندنه او يو توری له بل توري سره نښلول او د هغه د اواز پيژندنه.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَنْ | بَنْ | تَنْ | ثَنْ | جَنْ |
| حَنْ | خَنْ | دَنْ | ذَنْ | رَنْ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اِنْ | بِنْ | تِنْ | ثِنْ | جِنْ |
| حِنْ | خِنْ | دِنْ | ذِنْ | رِنْ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اُنْ | بُنْ | تُنْ | ثُنْ | جُنْ |
| حُنْ | خُنْ | دُنْ | ذُنْ | رُنْ |

محترم ښوونکی دې متحرک اوساکن توري سره بيل بيل پر تخته وليکي او و يې لولي بيا دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې دوه دوه کسه سره توري يوځای کړي او ويې لولي.

ketabton.com - The Digital Library

## شپاړسم لوست

# د قرآن کریم په کلمو کې د سکون تمرین

**هدف**

په ترکیبي قرآني کلمو کې دمتحرکو او ساکنو تورو ښوونه ، پیژندنه او سم تلفظ.

څوک کولی شي زور، زیر ، پېښ او سکون په کلمو کې روښانه کړي ؟

اَلْحَــــمْدُ — قُــــــلْ

اَ لْ حَ مْ دُ قُ لْ

صُـــلْحُ

صُ لْ حُ

**هڅونه:**

زده کوونکي دې دا کلمې په ډله ییزه توګه په لوړ آواز سره تلفظ کړي.

ښاغلی ښوونکی دې د لوست موضوع په نورو مثالونو کې پوره روښانه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# دریيم فصل

## اوو لسم لوست

### تنوین (ـــًــــٍـــٌـ)

**هدف:** د تنوین پیژندنه

آیا په تورو کې د دوو زورونو ــً دوو زیرونو ــٍ دوو پېښونو ــٌ ځای راښودلی شئ؟

دوه زورونه ــً دوه زیرونه ــٍ دوه پېښونه ــٌ

اً اٍ اٌ

بً بٍ بٌ

**هڅونه:**

د( اَنْ – اِنْ – اُنْ ) آواز اوتلفظ مشق او تکرار کړئ.

زده کوونکي دې د ( اً – اٍ – اٌ) شکل په خپلو کتابچو کې ولیکي.

---

ښاغلی ښوونکی دې دتنوین آواز په نورو مثالونو کې زده کوونکو ته روښانه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

اتلسم لوست

## دوه زوره تنوین (ـــًــ)

**هدف:**

په نهه ویشتو تورو کې د تنوین ـــًــ ښودنه او د تلفظ پیژندنه يي .

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اً | بً | تً | ثً | جً |
| حً | خً | دً | ذً | رً |
| زً | سً | شً | صً | ضً |
| طً | ظً | عً | غً | فً |
| قً | کً | لً | مً | نً |
| وً | هً | ءً | یً | |

**هځونه:**

لاندې توري تلفظ او تکرار کړئ او بیا يي په خپلو کتابچو کې ولیکئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ً | اً | = | اَنْ | ب | ً بً | بَنْ |
| ء | ً | ءً | = | اَنْ | و | ً وً | وَنْ |
| هـ | ً | هً | = | هَنْ | ف | ً فً | فَنْ |
| ع | ً | عً | = | عَنْ | م | ً مً | مَنْ |

ketabton.com - The Digital Library

## نولسم لوست

### دوه زیره تنوین (ـــٍــ)

**هدف:**

د دوو زیرونو (تنوین) د شکل ښوونه او په تورو کې یې تلفظ مثلاً اٍ – اِن چې د نون آواز لري.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اٍ | بٍ | تٍ | ثٍ | جٍ |
| حٍ | خٍ | دٍ | ذٍ | رٍ |
| زٍ | سٍ | شٍ | صٍ | ضٍ |
| طٍ | ظٍ | عٍ | غٍ | فٍ |
| قٍ | کٍ | لٍ | مٍ | نٍ |
| وٍ | هٍ | ءٍ | يٍ | |

**هځونه:**

لاندې توري تلفظ او تکرار کړئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ج ٍ جٍ جِنْ    ن ٍ نٍ نِنْ
م ٍ مٍ مِنْ    ص ٍ صٍ صِنْ
ب ٍ بٍ بِنْ    ل ٍ لٍ لِنْ

---

ښاغلی ښوونکی دې د تورو آواز او شکل په زده کوونکو تکرار او مشق کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## شلم لوست

# د دوو پېښونو تنوين (ـــٌـــ)

**هدف:**

په تورو کې د دوو پېښونو ٌ تنوين پېژندنه.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اٌ | بٌ | تٌ | ثٌ | جٌ |
| حٌ | خٌ | دٌ | ذٌ | رٌ |
| زٌ | سٌ | شٌ | صٌ | ضٌ |
| طٌ | ظٌ | عٌ | غٌ | فٌ |
| قٌ | کٌ | لٌ | مٌ | نٌ |
| وٌ | هٌ | ءٌ | یٌ | |

**هخونه:**

لاندې توري تلفظ او تکرار کړئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ٌ | = | اُنْ | ع | ٌ | = | عُنْ |
| ب | ٌ | = | بُنْ | ش | ٌ | = | شُنْ |
| ت | ٌ | = | تُنْ | ی | ٌ | = | یُنْ |

---

ښاغلی ښوونکی دې لوست پرتخته وليکي او دتنوين توري دې په زده کوونکو ولولي بيادې پــه لـــوړ آواز پـــر هغوی باندې تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## يوويشتم لوست

# شد ( ــّـ )

**هدف:**

د شدــّـ د تلفظ او شکل پيژندنه .

( ـــــَّــ ـــِّــ ـــُّــ )

## اَیُّ اِنَّ اَنَّ اِنِّیْ

### د شد لرونکو تورو تجزيه

| | |
|---|---|
| ۱- اِنَّ | اِ نْ نَ |
| ۲- اَنَّ | اَ نْ نَ |
| ۳- اِنِّیْ | اِ نْ نِ یْ |
| ۴- اَیُّ | اَ یْ یُ |

**هخونه:**

زده کوونکي دې شد د زور، زير او پيښ سره په کلمو او تورو کې جلا جلا پر تخته وليکي او له يو بل سره دې په لوستلو کې ملګرتيا وکړي.

ښاغلی ښوونکی! دشد لرونکو کلمو او تورو په تلفظ کې له زده کوونکو سره مرسته وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

# خلورم فصل

دوه ويشتم لوست

## هجا ويل

## لومړی برخه

**هدف:**

د هجا ويلو مهارت.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيْمِ○

اَعُـــــــوْذُ

اَ عُ وْ ذُ

بِـــــاللّٰه

بِ ا لْ لٰ هِ

مِــــــــــنَ الشَّـــــــــــيْطَا نِ

مِ نَ ا ل شَّ يْ طَ ا نِ

الـــــرَّجِـيـــــْـــــمِ

ا ل رَّ جِ يْ مِ

**هڅونه:**

۱- ښاغلی ښوونکی دې د لوست هره کلمه په څرګند ډول په تخته وليکي او بيا دې هره کلمه په جلا جلا او ټولنيزه توګه ولولي.

ښاغلی ښوونکي دې پورتنی لوست په دوه برخو او (۲) درسي ساعتونو کي تدريس کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## درویشتم لوست

# هجا ویل
## دویمه برخه

**هدف:**

په ترکیبي توګه د هجا ویلو مهارت او د تورو تجزیه کول.

# بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

| اللهِ | بِسْمِ |
| --- | --- |
| ا لْ لٰ هِ | بِ سْ مِ |
| **الرَّحِيْمِ** | **الرَّحْمٰنِ** |
| ا ل رَّ حِ یْ مِ | اَ ل رَّ حْ مٰ نِ |

**څخونه:** ۱-زده کوونکي دې بسم الله الرحمن الرحيم لومړی په پټ او بیا په لوړ آواز سره ولولي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي په آسانۍ سره اعوذ بالله ..... او بسم الله ........ لوستلی شي؟

۱- ښاغلی ښوونکی دې د بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ معنا (شروع کوم دخدای په نامه چې ډېر ښښونکی او مهربانه دی) په زده کوونکو مشق کړي او وروسته دې زده کوونکي په لوړ آواز ولولي.

۱- ښاغلی ښوونکی دې لوست په دوو درسي ساعتونو کې تدریس کړي.

۲- ښاغلی ښوونکیه! زده کوونکي پوه کړئ چې دهر نیک کار په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل کیږي.

۳- ښاغلی ښوونکیه! د څلورم فصل په لوستونو کې د (۱۷) مخ له نیمه ترکیبي تورو څخه کار واخلئ.

ketabton.com - The Digital Library

## شلرویشتم لوست

# د فاتحې سورت (اَلحَمدُ لِلّٰهِ)

## (لومړۍ برخه)

**هدف:** د فاتحې په سورت کې د قرآني کلمو رواني اوهجايي ويل.

اَلْحَمْدُ

اَ لْ حَ مْ دُ

لِلّٰهِ

لِ لْ لٰ هِ

رَبِّ

رَبْ بِ

الْعٰلَمِيْنَ ۙ

ا لْ عٰ لَ مِ یْ نَ

اَلرَّحْمٰنِ

ا لَ رَّ حْ مٰ نِ

الرَّحِيْمِ ۙ

ا لْ رَّ حِ یْ مِ

**هڅونه:**

۱- ښاغلی ښوونکی دې د لوست هره کلمه په څرګند ډول په تخته وليکي او بيا دې هره کلمه په جلا جلا او ټولنيزه توګه ولولي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

## دویمه برخه

**هدف:** د هجايي اورواني ويلو د مهارت زده کړه.

| الدِّيۡنِ | يَوۡمِ | مٰلِکِ |
|---|---|---|
| ا ل دِّ یۡ نِ | یَ وۡ مِ | مٰ ا لِ کِ |

| نَعۡبُدُ | اِيَّاکَ |
|---|---|
| نَ عۡ بُ دُ | اِ یۡ یَ ا کَ |

| نَسۡتَعِيۡنُ ؕ | وَ اِيَّاکَ |
|---|---|
| نَ سۡ تَ عِ یۡ نُ | وَ اِ یۡ یَ ا کَ |

**ښوونه:**

۱- ښاغلی ښوونکی دې د لوست هره کلمه په څرګند ډول په تخته وليکي او بيا دې زده کوونکي هره کلمه په جلا جلا او ټولنيزه توګه ولولي.

ketabton.com - The Digital Library

شپږویشتم لوست

# دریيمه برخه

**هدف:** د هجايي او رواني لوستلو زده کړه .

| | |
|---|---|
| اِهْدِنَا | الصِّرَاطَ |
| اِ هْـ دِ نَ ا | ا ل صِّ رَ ا طَ |
| ا لمُسْتَقِیْمَ ۙ | صِرَاطَ |
| ا لْ مُ سْ تَ قِ یْ مَ | صِ رَ ا طَ |
| الَّذِیْنَ | اَنْعَمْتَ |
| الْ لَ ذِ یْ نَ | اَ نْ عَ مْ تَ |

**هځونه:**

زده کوونکي دې د ( اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ) جمله په ګروپي توګه په لوړ آواز سره ولولي.

ketabton.com - The Digital Library

## اووه ویشتم لوست

# څلورمه برخه

**هدف:** د هجایي او رواني لوستلو زده کړه.

عَلَيۡهِمۡ ۚ

عَ لَ یۡ هِ مۡ

غَيۡرِ

غَ یۡ رِ

الۡمَغۡضُوۡبِ

اَ لۡ مَ غۡ ضُ وۡ بِ

عَلَيۡهِمۡ

عَ لَ یۡ هِ مۡ

وَلَاالضَّآلِّيۡنَ ۝

وَ لَا ا لضَّ ا لۡ لِ یۡ نَ

آمِیۡنَ

**هڅونه:**

زده کوونکي دې (غيرالمغضوب) په لوړ آواز سره ولولي او د(ولا الــضالين) توري دې وشميري.

ketabton.com - The Digital Library

# د فاتحې سورت

## مشق او تمرين

**هدف:** د فاتحې سورت د رواني ويلو مهارت.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ
﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د فاتحې د سورت دکلمو حرکتونه (زير ، زور ، پيښ اوشد) په سمه توګه ولولي.

**ارزونه:** آيا زده کوونکي د فاتحې د سورت هر يو آيت لوستلی شي؟

**ښاغلی ښوونکيه!** د زده کوونکو له مينې او غوښتنې سره سم تاسو کولای شی، چې (الکوثر) اويا (العصر) سورتونه په اضافي ساعتونو کې د زده کوونکو په فعالې ونډې سره د آزادو لوستونو په څير تدريس کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

## اته ویشتم لوست

# د اخلاص سورت

**هدف:**

د اخلاص د سورت د رواني لوستلو زده کړه .

څوک (قل هو الله احد) ویلی شي؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ۝١ اَللهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ

يُوْلَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤

---

محترم ښوونکی دې دا لوست د تیرو درسونو په څیر په هجایي او رواني توګه تدریس کړي.

باید یوه شئ چې اشباعي زور اشباعي زیر، اشباعي پیښ په دې شکل ــٰـ، ــٖـ ، ــٗـ سره په قرآني کلمو کې راځي اود ـَـ، ـِـ ، ـُـ په آواز سره په ډکه توګه اداء کیږی. دمثال په توګه اٰدَمٌ خَيْرُهی او داود دی چې په اصل کې ءَ ا دَ مُ، خَيرِهِي او دَاوُدُ دی .

نو ولاړ زور د یوه زور او الف پر ځاي، پروت زیر د زیراو یا پر ځاي، اوسرچپه پیښ د پیښ او یوه واو پر ځاي راځي مثلاً مٰ = مَا، ہٖ = هِي، وٗ = وو شمیرل کیږي نو په ډیره ساده ژبه زده کوونکي ورباندي پوه کړي.

<u>یادونه</u> : اشباع : ډک لوستلو ته وایي.

ketabton.com - The Digital Library

## نهه ویشتم لوست

# د الفلق سورت

**هدف:**

د الفلق د سورت رواني ویل .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾ ع

---

ښاغلی ښوونکی دې دا لوست په څو برخو کې د تیرې لارښوونې سره سم تدریس کړي.
همدا راز اشباعي حرکتونه (ولاړ زور، پروت زیر او ډک پیښ( ـٰـ ـٖـ ـٗـ ) د مٰلِکِ لَمْ یَکُنْ لَّهٗ او نورې کلمې پر تخته ولیکئ او زده کوونکو ته یې په کلمه او شکل سره په هجایي توګه توضیح کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

## دیرشم لوست

# د الناس سورت

**هدف:**

د الناس سورت د روانی ویلو مهارت.

آیا د الناس سورت ویلای شئ؟

څوک کولای شي د الناس سورت هجايي او رواني قرائت کړي؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۥ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ
صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

**هڅونه**

ښاغلی ښوونکی دې د دې سورت کلمې او آیتونه پر تخته ولیکي. زده کوونکي دې دیته په هجايي او رواني ووایي، او تاسو یې په ورین تندي لفظي او صوتي خطا ګانې اصلاح کړئ.

**ارزونه:**

ښاغلی ښوونکی! د دې سورت هر آیت په رواني توګه له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ.

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې د کورنۍ په مرسته دا څلور سورتونه په یادو زده کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون

## لومړی فصل: عقیده

## لومړی لوست

# الله (جل جلا له)

**هدف:** زده کوونکو ته د الله تعالی د یادونې د ذهنیت ورکول او د عقیدې ټینګوالی.

موږ چا پیداکړي یو؟

**تـــه د چـــا بنـــده یـــــې؟ زه د الله تعـــالی بنـــــده یـــم.**

**موږ ته څوک روزي راکوي؟ موږ ته الله تعالی روزي راکوي.**

**ځمکه، آسمان، حیوانات، لمر او سپوږمۍ چا پیدا کړي دي؟**

**ځمکه، آسمان، حیوانات، لمر او سپوږمۍ الله تعالی پیدا کړي دي.**

**موږ د الله تعالی سره مینه لرو او د هغه عبادت کوو.**

**الله تعالی زموږ پروردګار دی.**

**موږ په الله تعالی ایمان لرو.**

### لارښوونه

ښاغلی ښوونکی دې د لوست په ترڅ کې د کائناتو پیدایښت په نمایشي توګـــه زده کوونکـــو تـــه وروپیژني او زده کوونکي دې ته متوجه کړي چې د خپلو ځانونو په اړه فکر وکړي.

---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې د نړۍ او کائناتو په باره کې خبرې وکړي.


ketabton.com - The Digital Library




## دویم لوست

# زموږ پیغمبر

## صلی الله علیه وسلم



**هدف:** زده کوونکوته د اسلام د ستر پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د رسالت پیژندنه او په اړه یې د اعتقاد پیاوړتیا.

**س– ته د چا امتي یې؟**

**ج– زه د حضرت محمد** (صلي الله عليه و سلم) **امتي یم.**

**س– حضرت محمد** (صلي الله عليه و سلم) **څوک دی؟**

**ج– حضرت محمد** (صلي الله عليه و سلم) **د الله تعالی رسول دی.**

**مونږ مسلمانان د حضرت محمد** (صلي الله عليه و سلم) **په پیغمبری ایمان لرو.**

**مونږ له حضرت محمد** (صلي الله عليه و سلم) **سره مینه او محبت لرو.**

**هڅونه:**

زده کوونکي دې لوست د سوال اوځواب په توګه په ډله ییز ډول تکرار اوتمرین کړي.

---

۱– ښـــاغلی ښوونکی دې د حضرت محمد (صلی الله علیه و سلم) د ژوند په هکله په مکي او مدني دور کې له خپلو معلوماتو څخه زده کوونکو ته لنډ معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

## دریم لوست

# طیبه کلمه

**هدف:** په سمه توګه د طیبې کلمې د ویلو مهارت.

طیبه کلمه څوک ویلی شي؟

# لآ اِلٰـــــهَ اِلاَّ اللّٰـــهُ مُحَـمَّـــــدٌ رَّسُـــوْلُ اللّٰـهِ○

**الله تعالی یو دی.**

**حـــضرت محمـــد (صـــلی الله علیـــه و ســـلم) د هغـــه پیغمبـــر دی.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې طیبه کلمه لومړی په چوپه خوله ولولي او بیا دې په لوړ آواز په ډله ییزه توګه ولولي.

---

ښاغلی ښوونکی دې د کلمې طیبې بیلې بیلې برخې پرتختې ولیکي بیا دې و ارزوي او له څوتنو زده کوونکو څخه دې وغواړي چې هغه د مخې ولولي.

ketabton.com - The Digital Library




## شلورم لوست

# زموږ کتاب (قرآن کريم)

**هدف:** له قرآن کريم سره آ شنايي او له هغه سره محبت او مينه لرل.

**آيا قرآنکريم پيژنئ؟**

**زموږ د کتــاب نــوم څه دی؟ زموږ د کتاب نــوم قرآن کريم دی.**

**قرآن کــريم په چــا باندې نازل شوی دی؟**

**قرآنکريم پر حضرت محمد(صلی الله عليه و سلم) باندې نازل شوی دی.**

**زموږ ديــن څه نوم لــري؟ زموږ د ديــن نوم اســلام دی.**

**هڅونه**

محترم استاد دې دا لوست له الله تعالی څخه پيل، د اسلام د پيغمبر، دين اوکتــاب د ســوال اوځواب په توګه تدريس کړي او زده کوونکي دې په څو ډلو وويشي ترڅو په دې هکله يو له بل څخه پوښتنې وکړي.

ښاغلی ښوونکی دې د اسلام د سپيڅلي دين ارزښتونه وخت په وخت زده کوونکو ته په ډېره ساده ژبه بيان کړي او د قرآن کريم، اسلام او پيغمبر په هکله هغوی ته معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

# تمرین

۱. مونږ، تاسو، ځمکه او آسمان چا پیدا کړي دي؟
۲. زمونږ پروردګار څوک دی؟
۳. زمونږ د پیغمبر نوم څه دی؟
۴. زمونږ د دین نوم څه دی؟
۵. ته د چا امتي یې؟
۶. زمونږ په پیغمبر محمد (صلی الله علیه وسلم) باندې کوم کتاب نازل شوی دی؟
۷. طیبه کلمه څوک ویلای شي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې د تمرین له لارې تیر شوي درسونه په زده کوونکو باندې تکرار کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# پنځم لوست

# کعبه شریفه



**هدف:** د مسلمانانو د قبلې (کعبې شریفې) پیژندنه.

مورډ کوم لوري ته لمونځ کوو؟

**س– زموږ قبله څه نوم لري؟**

**ځ– زموږ قبله کعبه شریفه ده.**

**س ــ کعبه شریفه په کوم ځای کې واقع ده؟**

**ځ ــکعبه شریفه د مکې په ښار کې واقع ده.**

**س– موږ په لمانځه کي کوم لوري ته دریږو؟**

**ځ– موږ په لمانځه کي دکعبي شریفي، لوري ته دریږو.**

**هڅونه**

محترم ښوونکی دې زده کوونکي له ټولګي څخه د باندې په لیکه کې ودروي او څلور خــواوې دې ورته وښیي، بیا دې زده کوونکي د قبلي لورى پیدا کړي.

---

سپارښت: محترم ښوونکی دې د قبلې په باره کي زده کوونکو ته په ساده ژبه مناســب معلومــات ورکړي.

زده کوونکي دې پوه کړي چي د قبلې په لوري دې پښې نه اوږدوي او د قبلې په لورې دې لاړې نه توکوي.

ketabton.com - The Digital Library

## شپږم لوست

# زمونږ دين

**هدف:** د اسلام د مبارک دين عقيده اوله ارزښتونو سره آشنايي.

**س– زمونږ دين څه نوم لري؟**
**ځ– زمونږ ديـــن اســـلام دی.**
**س– د اسلام دين مونږ ته د څه شي لارښوونه کوي؟**
**ځ ـ د اسلام مبين دين مونږ ته د ښو کارونو امر کوي اوله بدو کارونو څخه مو منع کوي.**
**ټولې ښېګڼې د اسلام په مبارک دين کې دي.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې په خپل منځ کې په ډله ييزه توګه د اسلام د ارزښتونو په هکله خبرې وکړي.


**ارزونه:**

زده کوونکي د اسلام د ارزښتونو په باره کې څه ويلی شي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې په ورځني ژوند کې د اسلام د ارزښتونو د اغېزې په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library





# دویم فصل

## اووم لوست

## طهارت (پاکوالی)





**هدف:** دځان پاکوالي ته پاملرنه.

**س ــ لمونځ په چا فرض دی؟**

**ځ ــ لمونځ په هر مسلمان فرض دی.**

**س– له لمانځه مخکې باید څه وکړو؟**

**ځ– له لمانځه څخه مــخکــې اودس کوو.**

**س– د لمانځه لپاره باید کوم شیان پاک وساتو؟**

**ځ– مونږ خپل ځان، جامې او د لمانځه ځای پاک ساتو.**

**س– مونږ باید په کومو اوبو اودس وکړو؟**

**ځ– مونږ په پاکــو اوبو اودس کوو.**

**هڅونه**

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته د اوبو د ډولونو په هکله معلومات ورکړي او هغوی دې د اوبو په ارزښت پوه کړي.

ketabton.com - The Digital Library



## اتم لوست

# لمونځ

**هدف:** په لمانځه باندې د زده کوونکو عادت کول او په هغوی کې د عبادت جذبه پيداکول.

څوک کولی شي دلمانځه د اداء کولو ترتيب ووايي؟

**س– لمونځ پر چا فرض دی؟**

**ځ– لمونځ په هر مسلمان فرض دی.**

**س– څوک چې لمونځ نه کوي څه کيږي؟**

**ځ– څوک چې لمونځ نه کوي ګنهکار دی.**

**س– لمونځ څه ګټې لري؟**

**ځ– لمونځ انسان ته بدني هوساينه او د زړه ډاډ وربښي او له ګناهونو څخه يې ژغوري.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې په خپلو منځو کې د لمانځه په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:** آيا زده کوونکي د لمانځه حرکتونه اداء کولی شي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې د لمانځه د فرضيت په هکله زده کوونکو ته مناسب معلومات ورکړي او دوی دې هم د هغه په هکله خبرې وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

## نهم لوست

# د لمانځه وختونه



**هدف:** د لمانځه له وختونو سره آشنايي

د لمانځه وختونه پيژنئ؟

**س- لمونځ په يوه شپه اوورځ کې څووخته فرض دی؟**

**ج- لمونځ په شپه اوورځ کې په هر مسلمان باندې پنځه وخته فرض دی.**

**۱- د سهار لمونځ.**

**۲- د ماسپښين لمونځ.**

**۳- د مازيگر لمونځ.**

**۴- د ماښام لمونځ.**

**۵- د ماسختن لمونځ.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې د لمانځه د وختونو په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړي.

---

ښاغلی ښوونکی دې لوست د پوښتنې اوځواب په توگه ووايي .

ketabton.com - The Digital Library



## لسم لوست

# جومات (مسجد شریف)

**هدف:** په زده کوونکو کې جومات ته د تګ جذبه پیدا کول.

آیا تاسې جومات ته ځئ؟

**جومات د عبادت ځای دی.**

**زه له خپل پلار سره جومات ته ځم.**

**په جومات کې خپل دیني درسونه لولم.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې له خپل مور او پلار سره د لمونځ کولو په هکله خبرې وکړي.

**ارزونه:**

آیا زده کوونکي د جومات له تګ سره مینه او علاقه ښیي؟

ښاغلي ښوونکی دې د جمعې د لمانځه او جومات ته د تګ په هکله زده کوونکو ته په زړه پورې معلومات ورکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

# دریيم فصل

## اخلاق او آداب

## یوولسم لوست

# د مور او پلار حقونه

**هدف:** د مور او پلار د حق پیژندنه او د هغوی درناوی.

**زه د خپل مور او پلار سره ډیره مینه لرم.**

**د خدای جل جلاله رضاء او خوښي د مور او پلار په خوښۍ کې ده.**

**زه تل د خپل مور او پلار درناوی کوم اوخدمت ته یې ولاړیم.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې په ټولګي کې د مور او پلار د حقونو په هکله خبرې وکړي او محترم استاد دې د هغوی د ژبني مهارت او د پوهې اندازه وارزوي.

**ارزونه:**

زده کوونکي دې هغه ستونزې چې مور او پلار یې له دوې سره ګالي، څرګندې کړي.


---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته سپارښتنه وکړي، چې د بل چا مور او پلار ته کنځل کول هم ګناه ده .

ketabton.com - The Digital Library

## دولسم لوست

# د ښوونکي حقونه



**هدف:** د استاذ له حقوقو سره آشنايي او د هغه درناوی.

**مونږ د ښوونکي لوست ته غوږ نيسو او هغه زده کوو.**

**د ښوونکي درناوی پر مونږ لازم دی.**

**مونږ له خپلو ښوونکو څخه پوهه اوښه خويونه زده کوو.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې په ټولګي کې د ښوونکي د درناوي رول ولوبوي.

**ارزونه:** لوست د سوال اوځواب په ډول وړاندې کړئ او د زده کوونکو د پوهې کچه او اندازه ورڅخه اټکل کړئ.

---

ښوونکی دې د ښوونکي د حقونو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

# دیارلسم لوست

# د ګاونډي حقونه

**هدف:** له ګاونډیانو سره د نېکۍ کولو انګیزه او له هغوی سره د دوستۍ، مینې او سولې په فضا کې ژوند کول.

ګاونډی څوک دی؟
آیا تاسو خپل ګاونډی پیژنئ؟

**مونږ له ګاونډي سره ښه راشه درشه کوو.**
**د اسلام پاک دین له ګاونډي سره په ښه تګ را تګ او نیکۍ کولو امر کړی دی.**
**ګاونډي ته زیان رسول ګناه ده.**
**مونږ له خپلو ټولګي والو سره هم نیکي اوښه سلوک کوو.**


## هڅونه

دوو تنو هغو زده کوونکو ته چې سره ګاونډیان وي، دنده ورکړئ چې د مرسـتې او ښه سلوک په اړه خبرې وکړي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکي د ګاونډي حقونه پیژني او د هغه حقونو ته پاملرنه کوي؟


ښاغلی ښوونکی دې د ګاونډي د حقونو په هکله زده کوونکو ته په ساده ژبه معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library



## ښوارلسم لوست

# پاکوالی



**هدف:** د ژوند د چاپیریال پاکي او نظافت ته د زده کوونکو پام کول.

پاکوالی څه ګټې لري؟

**پاکوالی (نظافت) دایمان جز دی.**

**مونږ خپل ځان، جامې، ټولګی او کتابونه پاک ساتو.**

**خدای تعالی پاک انسان خوښوي.**

**پاکوالی زمونږ روغتیا ته ګټه رسوي.**

**مونږ پاکې اوبه څښو او پاک خواړه خورو.**

**له ناپاکو اوبو او خوړو څخه ځان ساتو.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې دا جمله (نظافت دایمان جز دی) په لوړ آواز په ټولګي کې تکرار کړي.

**ارزونه:** آیا زده کوونکي په ټولګي کې نظافت مراعات کوي؟

---

ښاغلی ښوونکی دې وخت په وخت د زده کوونکو د جامو، ځان، نوکانو اولاسونو پاکوالی وګوري.
د ناپاکو اوبو، او هغو ناروغیو په اړه کومې چې له ناپاکو او بو څخه پیداکیږي، زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

ketabton.com - The Digital Library

## پنځلسم لوست

# د ډوډۍ خوړلو آداب

**هدف:** د ډوډۍ خوړلو د آدابو زده کړه .

**زه له ډوډۍ خوړلو څخه مخکې خپل لاسونه ښه مینځم.**
**د ډوډۍ خوړلو په پیل کې (بِسْمِ اللّٰهِ الْرَحْمٰنِ الْرَحِیْمَ) وایم.**
**ډوډۍ په ښي لاس خورم، همدا راز اوبه هم په ښي لاس څښم.**
**تل ډوډۍ له خپلې مخې څخه اخلم او په ډېرې کرارۍ سره یې خورم.**
**د ډوډۍ خوړلو په وخت کې چا ته نه ګورم او وړه مړۍ اخلم.**
**د ډوډۍ خوړلو په پای کې (الحمدلله) وایم.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې په ټولګی کې د ډوډۍ خوړلو رول په یوه ګیلاس پاکو اوبو سره ترســـره کړي.

---

ښاغلی ښوونکی دې د ډوډۍ خوړلو آداب وخت په وخت زده کوونکو ته ورزده کـــړي، د ډېـــرې ډوډۍ او ناوړه خواړو زیانونه دې په ساده ژبه بیان کړي او زده کوونکو ته دې ووایي چې معده درې برخې لري. د خوراک برخه د اوبو برخه او د هوا برخه .

ketabton.com - The Digital Library

# شپاړسم لوست

# د سلام آداب

**هدف:** د سلام اچولو له ګټو سره آشنايي .

مونږ ولې يو بل ته سلام اچوو؟

**يو بل ته سلام اچول (ويل) سنت دي.**
**سلام ويل د مينې، دوستۍ اومحبت سبب ګرځي.**
**کوچنيان بايد لويانو ته سلام واچوي.**
**زه ټولګي او کور ته د ننوتلو په وخت کې سلام اچوم.**
**او وايم: السلام عليکم ورحمة الله.**
**زما ملګري وايي: وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته.**
**همدا راز وړه ډله بايد لوېې ډلې ته سلام واچوي.**

**هڅونه**

زده کوونکي دې دوه ډلې شي، يوه ډله دې بلې ډلې ته د(**السلام عليکم** ورحمة الله و برکاته) **جمله ووايي او په ځواب کې دې هغه بله ډله د(وعليکم السلام** ورحمة الله) **جمله ووايي، دا عمل دې څو ځله تکرار کړي.**

**ارزونه:** آيا زده کوونکو د السلام عليکم .......... جمله زده کړې ده؟

---

ښاغلي ښوونکی دې زده کوونکي پوه کړي چې په اسلام کې په لاس او سر خوځونه ياتيټه ونه، سلام نشته بلکې سرتيټه ونه ګناه ده.

ketabton.com - The Digital Library

## اوولسم لوست

# د خبرو کولو آداب

**هدف:** په هر ځاي کې دخبرو کولو د آدابو د مهارت زده کړه.

څرنگه باید خبرې وکړو؟

**مونږ باید د خبرو کولو په وخت کې نوبت مراعات کړو.**
**او د اوریدونکو په خوښه په ټیټ آواز سره وغږیږو. د چا غیبت ونه کړو او د خیر خبرې وکړو.**
**زمونږ پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په نرمـــو خبـــرو اوښـــو اخلاقو(خویونو) سره ډیر خلک د اسلام په دین مشرف کړل.**

**هڅونه**

زده کوونکي باید په ډیر ادب سره د یوې موضوع په هکله له خپل ښوونکي سره خبـــرې وکړي .

**ارزونه :** زده کوونکي باید د خبرو کولو ادابو ته پاملرنه وکړي او یو د بل خبرې پوره واوري.

---

ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته دخوړې ژبې او سمو خبرو گټې بیان کړي او هغـــوی دې لـــه کنځلو، درواغو او بې ځایه خبرو څخه منع کړي. ددې متن څخه په استفادې سره دې زده کوونکوته نور معلومات ورکړي.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*